# د ښاغلی اجمل ختک د شعرونو بیلګی

که ظالم مي ژبه غوڅه کړه تیره سوه

توره خومره چي تېره سوه لاخوږه سوه

اوس که نروې نو غوړونه دي خپل پرېکړه

چي زمـــــــــــا نغمه سړه نه سوله سره سوه

×××××

ملګرو ! تش په لو ګیدواونه شوه

ځی چي لمبه شوداخپل ځان وسوځو

د نوي ګل د خصما نې دپا ره

دازوړخوړلی ګلیستان وسوځو

×××××

دخوشحال دخاوري پورته يو نغمه شوم

بل مثال په ابا سین او تا تره شوم

سره!پوه شوې؟دغیرت چیغه سور اوروم

چي تا خومره را نغړدلم سره لمبه شوم

×××××

غټان ، غټان نېکان ، نېکان پیدا دي

دوی خو له ځایه جنتیان پیدا دي

ځی ! هغه خوارو له جنت او ګټو

څوک چي دموره دوږخیان پیدا دي

×××××

منم چي دادټولواکانودنیا

دخپلواکۍ کونګوسې بدي ګڼي

منم چي دادخوغټانوډلې

دادآزادۍ ولولې بدي ګڼي

×××××

! لویه خدایه! لویه خدایه

داتیارې په موږ رڼاکړې

ستا له میني مو اګاه کړې

ورورولي راکښي پیداکړې

په سینو کښي چي موزهـر

دکینواوتربګنودي

په ذهنو کې موجالې

دوهمونودتیرو دي

ورته علم پوه را کړې

دازنګونه ټول صفاکړې

لویه خدایه ! لویه خدایه!

داتیارې پرمورڼا کړې

## غزل

راځئ چې جمع شــــــو مــــــلګروخوجـــامونه وڅښو

دمی یـــادونوکې دوخت تراخـــــــــــه ګوټـــونه وڅښو

که ددوو ګوټو منځ کې شغل دښـــــــــــــــکلا نشته دی

دحسن یاد کې بـــــــــه دتېر دور یادونـــــــه وڅښـــــــو

که دجام کړنګ نشتــه ،شرنګار دزولنو خوشته دی

لکه صهبـــــابه دا تنها تنهـــــــــاقیـــــــــــــدونه وڅښو

دظلم شپـــــــــه کې بـه دوینـــــو مشالـــــــــــــونه بل کړو

دلالاجــــــــــــــام کې به دخپل ځیــګر داغونه وڅښو

HOWD هـود

يو خـــــودحسن تقاضې بل خوا دمينې ننـــګ دی
لکه ترياق به دســـــاقي په نـــــــوم زهرونه وڅښو
په وينـــو ډکوڅُـــــــلوپه رنګ دپسرلي قـــــائم کړو
لک غوټۍ به خپل مسکۍ زخمونه وڅښو
ددې راخــــــــور تورتم علاج ته به دشمعې غـوندې
دځيـــــګر وينه کړو لمبــــــه لکــــــه اورونه وڅښو

## شعر

جوړه غلبله ده په څلور کنج د دنيا ربه
هر خوا د غرض توره راويستې ده هر چا ربه
څوك به درنه هغه غواړي، څوك به درنه دا ربه
ما ته زماخپله خپله پښتونخوا ربه
دا د هسکو غرونو په جولۍ کې د ښکلا وطن
دا ګل ګل، مېوه مېوه، جنت جنت زما وطن
دا زما د وينې مينې جوړ د سرو لعلونو کور
دا د مېړنو پښتنو لوی د نعمتونو کور
دا چې د تخليق وېش کې راکړی راله تا دی
دا چې بس زما دی بس زما دی بس زما دی
دا چې نه د ده، نه د هغه نه د بل چا دی
لر دی او که بر دی د تاريخ د لوی بابا دی
زه په پلار نيکه سوچه پښتون يم بدلېدای نشم
سر که مې ګوزار شي له ناموسه تېرېدای نشم
ولې دې خراب شي زما دين زما دنيا ربه
ما ته زماخپله خپله پښتونخوا ربه
کله د غازي بابا پګړی زه هېرولای شم
کله مې دنيا بي بي پړونی خرڅولای شم
کله د شهيد له وينې سترګې پټولای شم
کله خپله پېغله شين خالی پردی کولای شم
کله زه پښتون خپله پښتو خرابولای شم

هود
HOWD

کله ګلالی زلمی پردو ته ګډولای شم
ولې دې زما حجره، جمات په بم ړېران شي
ولې د خندا دې زما ننګ زما ایمان شي
ولې دې پیسه زما پښتو زما غېرت واخلي
ولې دې زردار زما تاریخ زما ثقافت واخلي
ولې دې زما د سر سودا څوك غلچکی وکړي
ولې دې خاني زما په کور کلي پردی وکړي
نه منمه پلار دغه لار دغه چاچا ربه
ما ته زماخپله خپله پښتونخوا ربه
زه به د اپښتون مې د انسان د مینې رود کړم
زه به دا وطن د دې دنیا د امن کور کړم
زه به پښتونخوا یو نمونه د شرافت کړم
دا خپله پښتو به هم عزت کړم هم قوت کړم
دغه نن د شر فساد میدان به مینه مینه کړم
زه به دا ځنګونه سوې خاوره بیا رنګینه کړم
دا چې شازلمي مو ګوره ورك شي په خوارو پسې
دوی به کړم مشغول پخپل هیواد کې خوشحالو پسې
دا چې پیغلتوب د ځونو اوسوځي بېلتون کې
را به شي سپرلی د خوشحالو د دوی ژوندون کې
ز به لر او بر د خوشحال خان د ننګ ټبر کړمه
زه به د رحمان په مصرعو هر څه معطر کړمه
دا ټول ارمانونه مې رښتیا کړې په رښتیا ربه
ما ته زماخپله خپله پښتونخوا ربه

## سپینه کوتره

راوالــوځـــــه ګـــډا شه د خیبــــرد لــوړه سره
واه واه سپیـــنـــه کـــونتـــره
د مینــــې فضـــا جــــــوړه کا د امــن پیغامبره
واه واه سپیـــنـــه کـــونتـــره

دا خـــونه د تاریـــخ ده د پښتـــــواود ایمـــــان
دښمـــــــــن یې راته سیـــزي د بمـــونو په باران

دا ظلم اپوته کا د جنګونو له سنګره
واه واه سپینه کونتره

نن وخوره چورلکونه زما وینه مستانه کا
خبرمې په میړانه دامغروره زمانه کا
د ننګ چغه پیدا کا د نرانوله ډګره
واه واه سپینه کونتره

دا خپل مستانه قوم دخپل ښاېست په تماشه کا
دې وینه کښې، دې مینه کښې پیدا نوې جذبه کا
دا شراؤ فساد ورک کا له هیواده سراسره
واه واه سپینه کونتره

یو داسې امن غواړم چې زما د خاورې پت وي
د بم اوډالرنه وي د ایمان اؤ د غیرت وي
په خپله فیصله شي د محراب نه ترټغره
واه واه سپینه کونتره

سپرلي د جنت راشي دې جنګونو سوي کورته
ملي زندګي راوړي دغه خاورې دغه لورته
ژوندون شي مینه مینه دلته کوزه هلته بره
واه واه سپینه کونتره

خپل حسن زما ننګ راته یو نوې فیصله کا
د وخت د شین اسمان په پلوشوکښې موجرګه کا
ختک ته زېري راوړه د وطن دسپین سحره
واه واه سپینه کونتره

[www.howd.org](http://www.howd.org)